څېړنیار حمایت الله ښاد

# د پښتو ادب په وده او پرمختیا کې د خلیج مېشتو پښتنو ونډه

# Role of Gulf countries Pashtun residents in the evaluation of Pashto literature

**Junior Assistant Prof. Hemayatullah Khad**

**Abstract**

Athenaeums and cultural persons have substantial contribution in evaluation of Pashto literature. When the black gold (oil reserves) discovered in Gulf countries, so seventies and eighties of the twentieth century and the different parts of Pakhtunkhwa groups of Pashtuns' went to the Gulf countries.

In this hug caravan of Pashtuns there were doctors, engineers, traders, workers and some Pashtun nationalist poets and authors were also included. These young Pashtuns endured difficult days and nights, they made a significant contribution to the development of the Gulf countries. By this way they learned many work and business skill and they owned factories, shops, cars, real estate and wealth. In some of these Pashtuns were able to unite Pashtuns in literary societies and made athenaeums. With the establishment of literary societies in the Gulf countries, every Pashtun became interested to work for improvement of Pashto language. By literary

gatherings, meetings and poetry chats, they work for Pashto literature. Pashto grows and develops there so much, that it plays a key role in the rise of Pakhtunkhwa literature.
In this article role of Gulf countries Pashtuns residents in Pakhtunkhwa literature will be clear to some extent.

## لنډیز

ادبي ټولنې او فرهنګي شخصیتونه د پښتو ادب په وده او پرمختیا کې پراخه او ځلېدونکې ونډه لري. کله چې په خلیجي هېوادونو کې د تورو زرو(تېلو) زېرمې راپیدا شوې، نو د شلمې میلادي پېړۍ په اوومه او اتمه لسیزه کې د پښتونخوا له بېلابېلو سیمو ډله ډله پښتانه ورغلل. د پښتنو په دغه لوی کاروان کې پر ډاکترانو، انجنیرانو، سوداګرو، کارګرو سربېره ځینې شاعران، لیکوالان، پښتو پال او فرهنګپال هم شامل وو. تنکیو پښتنو د کړاو د ډکو شپو او ورځو په تېرولو سره د خلیجي هېوادونو په آبادۍ کې پراخه برخه واخیسته. همدغو سختو ورځو شپو ډېر پښتانه د سوداګرۍ او کاروبار په چل پوه کړل او د خپلو فابریکو، دوکانونو، موټرو، جایدادونو او شتمنیو څښتنان یې کړل. د همدغو پښتنو په لړ کې ځینې شاعران، لیکوالان او فرهنګي شخصیتونه د دې ځواک پیدا کوي چې په پردیو هېوادونو کې پښتانه د ادب په تغر سره راټول کړي او ادبي ټولنې رامنځ ته کړي. په خلیج کې د ادبي ټولنو په جوړېدو سره له هر پښتون سره د پښتو پالنې روحیه پیدا کېږي او د ادبي ناستو، غونډو، مشاعرو او بانډارونو له لارې پښتو ادب ته کار کوي. هلته پښتو زرغونېږي، وده کوي او بالاخره دومره پراخېږي چې د پښتونخوا د پښتو ادب په ځلېدا کې هم پوره پوره ونډه اخلي.

په دې لیکنه کې به د پښتونخوا په پښتو ادب کې د خلیج مېشتو پښتنو ونډه تر یوه بریده روښانه شي.

## سریزه

په دې کې شک نه شته چې خلیج مېشتي ځینې پښتانه د ژوند له سخت پړاو څخه اوس یو څه د راحت او ارام غېږې ته تللي دي. د پښتونخوا تر پښتنو ښه اقتصاد لري او د پښتو ژبې او ادب د ودې او پرمختیا ډېره تمه ترې کېدای شي؛ خو دوی هلته په خلیجي سیمو کې یواځې خپلې ژبې او فرهنګ ته کار نه کوي، بلکې

د پښتونخوا له پښتو اديبانو سره هم کلکې اړيکې پالي. دوی وخت په وخت له پښتونخوا څخه ځينې ادبي، فرهنګي او علمي شخصيتونه خپلو ادبي ټولنو ته بولي، هغوی نازوي چې په دې سره د خليج مېشتو ځوانو پښتنو په احساساتو کې د ورورولۍ او مينې جذبې غځونې کوي او د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ احساس يې پياوړتيا مومي.

کله چې خليج مېشتو پښتنو ادبي او فرهنګي ټولنې جوړې کړې؛ نو د همدغو ټولنو له لارې او يا هر يوه په ځانله ځان د خليج مېشتو پښتنو ډېر کتابونه چاپ کړل. دوی خپل ټول کتابونه په پښتونخوا کې د دې لپاره چاپول چې له يوې خوا ارزانه او اسانه وو او له بلې خوا دوی نه غوښتل چې ګټه د پښتون له کوره بل خوا لاړه شي. له دې لارې يې هم د پښتنو د اقتصاد په پياوړتيا کې ونډه اخيستې ده. همدارنګه يې د پښتونخوا د ډېرو پوهانو، شاعرانو، څېړونکو او اديبانو کتابونه چاپ کړي او د مجلو او آثارو له لارې يې د دغو پوهانو ليکنې ځوان نسل ته رسولي دي. د خليجي پښتنو د دغسې ادبي کړنو له برکته پښتون نسل ښه روزنه موندلې ده او د پښتونخوا د پښتو ادبياتو په پرمختګ کې يې ځانګړې برخه هم اخيستې ده.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

خليج مېشتي پښتانه په مسافرۍ کې د پښتو ادب د ځلېدو او خپل ادبي ذوق د خړوبېدو لپاره وخت نا وخت ادبي ناستې، مشاعرې، کرکتنيزې غونډې او ادبي مجلسونه جوړوي. له بلې خوا د پښتونخوا له اديبانو سره مادي مرستې کوي، د دې څېړنې اهميت او مبرميت په دې کې دی چې د همدغو پښتنو ادبي فعاليتونه په خليج او دلته په پښتونخوا کې روښانوي او د پښتو ژبې او ادب په وده کې د هغوی زيار او هڅې جوتوي.

## د څېړنې موخې

په پښتونخوا کې د خليج مېشتو پښتنو د ادبي کړنو او فعاليتونو پېژندل، د دې څېړنې تر ټولو لوی هدف دی.

## د څېړنې پوښتنې

۱. خليجي هېوادونه کومو هېوادونو ته ويل کېږي؟

۲. خليج ته پښتانه کله او د کومو لاملونو له امله لاړل؟

۳. د خليج پښتو ادب پښتونخوا ته څه ورکړي؟

۴. خلیج مېشتو پښتنو د پښتونخوا د پښتو ادب په کومو برخو کې ونډه اخیستې ده؟

## د څېړنې میتود

د څېړنې ډول تر ډېره کتابتوني دی؛ خو له ساحوي څېړنې څخه هم ګټه اخیستل شوې ده او د څېړنې میتود تشریحي او توضیحي دی.

## اصلي متن

په پښتونخوا کې د پښتو ادب د ودې او پرمختیا د بهیر تر څېړلو د مخه اړینه ده چې د خلیج او عربي خلیجي هېوادونو پېژندنې ته لږ تم شو. د خلیج د کلمې د مفهوم په اړه په آریانا دایرة المعارف کې داسې راغلي: « خلیج په وچه کې د سمندر د اوبو یوې ورننوتلې برخې ته وایي چې د یوې خوا له اوبو سره لار ولري او له درې خواوو څخه وچې راچاپېر کړې وي. خلیج په اوبو کې د وچې له ډوبېدو څخه یا هم تر اوبو لاندې د وچې د یوې برخې د ماتېدو له امله راپیدا کېږي.» (۱: ۴۹۷مخ) دغه پېژندنه راښیي چې د سمندر د اوبو هغه برخه چې په وچه کې وړاندې تللې وي، خلیج رامنځ ته کوي. په نړۍ کې یې د بنګال خلیج او عربي خلیج ښې بېلګې دي. دا چې بحرین، قطر، متحده عربي امارات، عمان، کویټ او سعودي عربستان د عربي خلیج په څنډو کې پراته هېوادونه دي، ځکه د عربي خلیجي یا خلیجي هېوادونو په نامه مشهور او یادېږي.

کله چې په عربي خلیجي هېوادونو کې د تورو زرو(تېلو) زېرمې را پیدا شوې، د دغو هېوادونو ارزښت یې دومره لوړ کړ چې د نړۍ له بېلابېلو هېوادونو څخه ورته ډلې ډلې خلک ورمات شول. پښتانه چې تر عربي هېوادونو دمخه یې د هندوستان د بدو ورځو او شپو ترخې تجربې لرلې او پلې به د خوارۍ، مزدورۍ او کاروبار په لټه دکن او هندوستان ته تلل؛ نو تر هندوستان وروسته د شلمې میلادي پېړۍ په نیمایي کې ډېر پښتانه د خپل ژوند د ښه والي په موخه د عربو تورو زرو د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ کړل.

له عربي نړۍ سره د پښتنو اړیکې د اسلام له راتګ سره پیل شوې؛ خو د عربي خلیج بېلابېلو سیمو ته د پښتنو ورتګ او استوګنه د شلمې میلادي پېړۍ له پنځمې لسیزې راهیسې پیل شوې ده. د ۱۹۵۰ز. شاوخوا کې یو شمېر پښتنو د خوارۍ او مزدورۍ په موخه د خلیج لاره غوره کړه او د عربي خلیج د بېلابېلو هېوادونو په

آبادۍ بوخت شول. د دغو هېوادونو په لړ کې تر ټولو لومړی په قطر کې د پښتنو موجوديت يقيني دی چې په ۱۹۵۲م. کې هلته استوګن وو. (۲: ۱۱ مخ)

څرګنده ده چې ډېر پښتانه د کار روزګار، غريبۍ، مزدورۍ، خپلمنځي تربګنيو، بديو، دښمنيو، زده کړو او نورو لاملونو له امله خليجي هېوادونو ته تللي او هلته په ډول ډول چارو بوخت شوي دي. دوی په لومړيو کې د کړاو ډکې ورځې شپې تېرولې؛ خو اوسمهال ډېر پښتانه خوشحاله ژوند لري او په خپل کار کسب او سوداګرۍ کې بريالي دي. خليجي سيمو ته د پښتنو په دغه لوی کاروان کې داسې پوهان، انجنيران، ډاکتران، سوداګر او کارګر شامل وو چې د عربو په ترقۍ او پرمختګ کې ځانګړې برخه اخيستې ده. پر دې سربېره په دغه ستر کاروان کې د خپلې مورنۍ ژبې(پښتو) د روزنې او پالنې باستعداده شاعران او اديبان هم شامل وو چې په ډېره مينه يې د پښتو د پرمختګ لپاره هلې ځلې پيل کړې او په پردۍ خاوره يې د پښتون قام خويونه پرې نه ښودل، بلکې لا يې ژوندي کړل. دوی خپل فرهنګ: غم، ښادي، مېلمه پالنه، پښتني ناسته ولاړه او مېړانه هېره نه کړه او له خپلو پښتني دودونو سره يې همالته ژوند پيل کړ. (٦: ۲۵ مخ)

خليجي هېوادونو ته ډېر پښتانه خپلې ښوسۍ رسولي دي؛ خو د لوړو ژورو او ډېرو بدو ورځو تر زغملو وروسته يې ډېر اوسمهال ښه ژوند لري. د ډېرو کارګرو پښتنو تر څنګ زيات شمېر د ژوند په لوړو پوړيو کې دي، دوی ځانته شخصي- فابريکې او په لويه کچه سوداګري لري چې له خپلو ورځنيو چارو سره د خپلې ژبې او ادب مينه وال او پالونکي هم دي.

د خليج په مېشتو پښتنو کې ډېر شاعران او ليکوال هم شامل وو، چې د مسافرۍ په ديار کې يې هم پښتو ژبه او پښتني فرهنګ تل د ګرمو، دوبجنو خولو سره يوځای له خولې زمزمه شوی دی. په خپلو زمزمو يې نور پښتانه راويښ کړي، هڅولي او په يو ټغر راټول کړي دي او په دې سره يې د هغوی هجران وهلي زخمي زړونه په خوږې پښتو ټکور کړي دي. د دغو پښتنو په لړ کې ځينې شاعران، ليکوالان او فرهنګيان چې د پښتونخوا له بېلابېلو سيمو څخه تللي وو، تر ډېرو خواريو وروسته د يو بل په موندلو بريالي شول او د متحده عربي اماراتو په القصيص ښار کې سره راټول شول. سم له واره يې د۱۹۸۰ز د اکتوبر په دويمه ورځ د (اماراتو پښتو ادبي ټولنې -

مرکز دوبۍ) بنسټ کېښود. د اکتوبر په شلمه ورځ یې د لوی اختر په مناسبت مشاعره جوړه کړه چې په ټولو خلیجي هېوادونو کې د لومړۍ مشاعرۍ ویاړ لري. (۵)

د اماراتو پښتو ادبي ټولنې مرکز دوبۍ ادبي فعالیتونو، مشاعرو، سیمینارونو او ادبي غونډو د ډېرو پښتنو په رګونو کې د پښتو پالنې روحیه پیدا کړه او د متحده عربي اماراتو پر بېلابېلو ایالاتونو سربېره د خلیج په نورو هېوادونو قطر، بحرین، کویټ، سعودي عربستان او عمان کې د پښتو د پرمختګ لپاره ډېرو پښتنو د خدمت ډګر ته راودانګل. ډېرو با احساسو پښتنو په انفرادي او ډله ییز شکل د ادبي ټولنو له لارې د خپل فرهنګ او ژبې ودې او پرمختګ ته ملا وتړله. دوی په پردۍ خاوره د خپلې ژبې او فرهنګ د ژوندي ساتلو لپاره ادبي ټولنې جوړې کړې چې د همدغو ادبي ټولنو په برکت ډېر شاعران، لیکوالان او د فکر او قلم خاوندان راپیدا شول. د ځوانو پښتنو شاعرانو او لیکوالو صلاحیتونو رابرسېره شول. د دوی د فکر، خیال او ژوند خوږې او ترخې تجربې د چاپ په ګاڼه سمبال او ټولنې ته وړاندې شوې چې په دې سره د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې د خلیج د حوزې نوی باب هم پرانیستل شو.

خلیج مېشتو پښتنو په انفرادي ډول او د ادبي ټولنو له لارې خپل ډېر آثار چاپ کړي او له دې لارې یې د پښتو د ودې او پرمختګ حق تر یوې اندازې ادا کړی دی؛ خو پر دغو ادبي کړنو سربېره یې په پښتونخوا کې هم د پښتو ادب ګرانبها پانګه له ورکېدو ژغورلې ده. ډېرو ناچارو لیکوالو او شاعرانو ته یې د مرستې لاس ورکړی او د هغوی آثار یې چاپ کړي دي. د نامتو لیکوالو او شاعرانو ناچاپ او چاپ شوي نایابه آثار یې بیا بیا چاپ کړي او په نورو مهالنیو خپرونو( ورځپاڼو او مجلو) کې یې د پښتو پرمختګ لپاره پراخه قلمي او مالي ونډه اخیستې ده.

د پښتونخوا په پښتو ادب کې خلیجي مېشتو پښتنو، ادبي ټولنو او انفرادي اشخاصو وخت پر وخت فعاله ونډه لرلې ده، آن د خلیجي پښتنو تخلیقي او تحقیقي آثار یې په پښتونخوا کې چاپ کړي دي چې ګټه یې د پښتون له کوره بل خوا لاړه نه شي. دغو پښتنو په پښتونخوا کې د بېلابېلو پوهانو، څېړنکو، شاعرانو او عامو لیکوالو آثار خپاره کړي دي. دغه آثار به دلته په لنډ ډول معرفي شي او د خلیج مېشتو پښتنو ونډه به په کې تر یوه حده روښانه شي چې پیل به یې د متحده عربي اماراتو له مېشتو پښتنو څخه وکړم.

په متحده عربي اماراتو کې (د اماراتو پښتو ادبي ټولنه ـ مرکز دوبۍ) تر ټولو لومړۍ ادبي ـ فرهنګي ټولنه ده. په دې ټولنه دومره پښتانه راټول شول چې د متحده عربي اماراتو په بېلابېلو رياستونو(دوبۍ، ابوظبي، عجمان، ام الکوين...) کې يې څانګې پرانيستې؛ نو د ۲۰۱۵م. اکتوبر په ۲۷مه د دې ټولنو غړو د دغې ټولنې نوم له (اماراتو پښتو ادبي ټولنه ـ مرکز دوبۍ) څخه د ( اماراتو پښتو ادبي ټولنه ـ متحده عرب امارات) په نوم واړاوه. (٦: ٦٠مخ) دغې ادبي ټولنې په خپلو مالي مرستو او امکاناتو د پښتونخوا د ليکوالو او شاعرانو لاندې آثار چاپ او خپاره کړي دي:

**غورځنګ:** د ولي محمد طوفان شعري ټولګه ده. دا شعري ټولګه لومړی ځل په ۱۹۷۱ م. کې چاپ شوې وه چې د پښتو ادبي ټولنې ـ متحده عرب اماراتو ټولنې د دوهم ځل لپاره د ۲۰۱۴ م. په فبرورۍ کې چاپ او خپره کړه.

**مخزن الاسلام:** د اخون درويزه اثر دی. دغه اثر د ډاکټر زبير حسرت په زيار او هڅه ترتيب او تدوين شوی او د ۲۰۱۴ م. کال مارچ په مياشت کې د متحده عربي اماراتو ادبي ټولنې مرکز دوبۍ له خوا چاپ او خپور شوی دی.

**ځيګر خون:** د ايوب صابر شعري ټولګه ده. په ۱۹۸۳ م. کال د لومړي ځل او د ۲۰۱۴ م. په اګست کې د دوهم ځل لپاره د اماراتو پښتو ادبي ټولنې مرکز دوبۍ له خوا چاپ او خپره شوې ده.

**تماشې ( له ۱۹۳۰ـ ۱۹۷۳م. پورې سټېج او راډيوي ډرامې):** د پروفيسور ډاکتر زبير حسرت په زيار او هلو ځلو راټولې شوې د سټېج او راډيويي ډرامې دي. دغه اثر د ۲۰۱۴ م. په نومبر کې د اماراتو پښتو ادبي ټولنې مرکز دوبۍ له خوا چاپ او خپور شوی دی.

**پښتانه ليکوال(دريم ټوک):** دا په پښتونخوا کې د همېش خليل په ادبي هلو ځلو د معاصرو او اوسنيو ليکوالو او شاعرانو ادبي تذکره ده. د ۲۰۱۴ م. کال د ډيسمبر په مياشت کې د اماراتو پښتو ادبي ټولنې مرکز دوبۍ په مالي مرسته چاپ او خپور شوی دی.

**پيمانه د غزل:** د پښتونخوا د نامتو شاعر اندېش شمس القمر شعري ټولګه ده. په ۲۰۱۵م. د اماراتو پښتو ادبي ټولنه ـ متحده عرب اماراتو له خوا چاپ او خپره شوې ده.

**د باچا خان نثر نګاري:** دا د ډاکتر شېرزمان سیماب اثر دی چې د ۲۰۱۵ م. کال د می په ۱۱مه د یادې ټولنې له خوا چاپ شوی دی.

**د مصري خان ګګیاڼي د فن او شخصیت تحقیقي مطالعه:** دا اثر د مصري خان ګګیاڼي د ژوند او فن په اړه د شوکت علي خریکوال په ادبي هلو ځلو د راټولو شوو علمي او څېړنیزو مقالو ټولګه ده، چې په ۲۰۱۵ م. کې د اماراتو پښتو ادبي ټولنې ـ متحده عرب اماراتو له خوا چاپ او خپره شوې ده.

**د پښتو شاعرۍ په وده کې د تنقید کردار:** دا اثر د ارواښاد ډاکتر صاحب شاه صابر د پي ایچ ډي پنډ ډېزرټیشن دی. په ۲۰۱۵ م. کې د اماراتو پښتو ادبي ټولنې متحده عرب اماراتو له خوا چاپ او خپور شوی دی.

**مقالې:** د کاکاجي صنوبر حسین مومند د علمي ـ څېړنیزو او په خپل تخیلي ځواک لیکلو مقالو ټولګه ده. دغه ټولګه په ۲۰۱٦ م. کې د اماراتو پښتو ادبي ټولنې ـ متحده عرب اماراتو له خوا چاپ شوې ده.

**مراد (شعري ټولګه)**: نور الله جان مراد شعري ټولګه ده. په ۲۰۱٦ م. کې د یادې ټولنې له خوا چاپ شوې ده.

**جدید پښتو ادب(اردو):** دا د پښتو ژبې د معاصرو ادبیاتو په اړه د ایوب صابر په اردو ژبه خپور شوی اثر دی چې لومړی ځل په ۱۹۷۴م. دوهم ځل په ۱۹۹۰م او دریم وار د ۲۰۱٦ م. په اپرېل کې د اماراتو پښتو ادبي ټولنې ـ متحده عرب اماراتو له خوا چاپ شوی دی.

**بخشالي وایي جلال آباد ته به ځو (راپورتاژ):** دا د ښاغلي مشتاق الرحمن لیکلي ادبي راپورتاژ دی چې د ۲۰۱٦ م. په می میاشت کې د اماراتو پښتو ادبي ټولنې ـ متحده عرب اماراتو له خوا چاپ شوی دی.

په متحده عربي اماراتو کې یوه بله ادبي ټولنه چې د پښتونخوا د ادب د ودې او پرمختیا ډېوه یې روښانه ساتلې، د (پاک امارات پښتو ادبي ټولنه ـ دوبۍ) ده چې په خپل مالي لګښت یې د پښتو ژبې لاندې آثار د چاپ په زېور سمبال کړي دي:

پړاوونه ( د ناظر بابا شعري ټولګه)

آئینه ( د مراد شینواري شعري ټولګه)

واورې او ګلونه (د ډاکتر صاحب شاه صابر لنډې کیسې، دوهم چاپ)

غنچک (د حمزه بابا نثري مضامین)
د خیبر اپریدي کلیات
د فکر ملغلرې( د ډاکتر راج ولي شاه خټک تنقیدي مضامین)

په متحده عربي اماراتو کې د (لیکوال پښتو ادبي تنظیم العین) ادبي ټولنې د محب وزیر څېړنیز اثر(پښتونستان تحریک او پښتو شاعري) او د توقیر ابشار د ژباړل شوي اثر (وجودیت او انسان دوستي) په چاپولو سره د پښتونخوا پښتو ادب په ځلا کې ونډه د ستایلو ده.

ورپسې د (امارات پښتو ادبي چمن ابوظبی) ادبي ټولنې دغه ډېوه مړه کېدو ته نه ده پرېښودې، د صادق ژړک په زیار یې د (نور محمد ترکي داستاني کلیات) او د پروفیسور اسیر منګل په زیار یې د (محمد دین مقید کلیات) چاپ او خپاره کړي دي.

د متحده عربي اماراتو ځینو پښتو ادبي ټولنو په ګډه هم ډېر ادبي او فرهنګي فعالیتونه ترسره کړي دي. د دغو ادبي ټولنو په لړ کې د (پاک امارات پښتو ادبي ټولنه دوبی)، (امارات پښتو ادبي ټولنه چمن ابوظبی) او (لیکوال پښتو ادبي ټولنه العین) په سهیلي پښتونخوا کې په خپلو مالي او قلمي همکاریو د خال په نامه درې میاشتنۍ ادبي مجله خپروي. د خال په ادبي مجله کې د پښتونخوا د ګڼو لیکوالو پر ادبي، تنقیدي، ذوقي او څېړنیزو لیکنو سربېره د خلیج مېشتو پښتنو ادبي او ذوقي لیکنو د مجلې موضوعات په تول درانه کړي دي. د دغې مجلې لومړۍ ګڼه(جنوري، فیبروري، مارچ) په ۲۰۱٦م. له چاپه راووته چې تر دې مهاله یې پنځه ګڼې چاپ شوې دي.

د خلیجي هېوادونو په لړ کې تر متحده عربي اماراتو وروسته د پښتونخوا په پښتو ادب کې د قطر مېشتو پښتنو هڅې او ادبي فعالیتونه له چا کم نه دي او د یادونې او ستاینې وړ دي. قطر مېشتو پښتنو په انفرادي توګه او د ادبي ټولنو له لارې د پښتونخوا پښتو ادب په پراختیا کې فعاله ونډه اخیستې ده. دلته به لومړی د قطر مېشتو پښتنو هغه ادبي ټولنه چې د پښتو ادب په پراختیا کې یې فعاله ونډه اخیستې ده، لنډه معرفي کړو او ورپسې به هغه آثار راواخلو چې په پښتونخوا کې یې چاپ او خپاره کړي دي.

«پاک پښتو ادبي ټولنه ـ دوحه قطر» په قطر کې تر ټولو لومړۍ پښتو ادبي ټولنه ده چې په پردي هېواد کې د مېشتو مسافرو پښتنو له لوري د ۱۹۸۵م. د فبرورۍ پر اتلسمه نېټه

د قطر په پلازمېنه (دوحه) کې جوړه شوه. (٦: ۳۵ مخ) دې ادبي ټولنې په خپلو مالي امکاناتو د پښتونخوا د لیکوالو، شاعرانو او څېړونکو لاندې آثار چاپ او خپاره کړي دي:

| د کتاب نوم | لیکوال |
|---|---|
| ۱ـ دوحې ته تگ راتگ(یونلیک) | سید صابر شاه صابر |
| ۲ـ چې دروميې څه به مومې(یونلیک) | سید صابر شاه صابر |
| ۳ـ د پښتنو اصل نسل ( دریم ټوک) | سعدالله جان برق |
| ۴ـ مرادونه | مراد علي خان مراد |
| ۵ـ منظومې کیسې | سعادت خان سحر |
| ٦ـ دا هم هغسې موسم دی | سیده حسینه گل کاکا خېله |
| ۷ـ باد خیبر (د حمزه بابا اردو او فارسي شاعري) | ډاکتر کلیم شینواری |
| ۸ـ د عودو بوی | لطیف وهمي |
| ۹ـ مسافر | مسافر خان هلال خېل |
| ۱۰ـ ټال | صادق سرگردان |
| ۱۱ـ چلتی چلتی، دوهمه حصه(راپورتاژ) | مسافر خان هلال خېل |
| ۱۲ـ چلتی چلتی، دریمه حصه ( حاجي گلزار خان میري نظر مین) | مسافر هلال خېل |
| ۱۳ـ د غېرت چیغه (انگریزي ژباړه) | دکتور شېرزمان طائزي |
| ۱۴ـ د پښتو ژبې تاریخ | سعدالله جان برق |

پاک پښتو ادبي ټولنې پر پورتنیو آثارو سربېره په پښتونخوا کې د دستار په نامه دوه میاشتنۍ مجله هم خپروله. دستار مجله به د دغې ادبي ټولنې په مالي مرسته په پېښور کې د پروفیسور ډاکټر جهانزیب نیاز او صابر شاه صابر په مدیریت او مرستیالۍ خپرېده. دغه دوه میاشتنۍ مجله د ۲۰۰۵م. کال د اپرېل او می میاشتو څخه پیل شوه او تر ۲۰۰۹م. پورې په پښتونخوا کې خپرېده چې د پښتونخوا د لیکوالو او شاعرانو د مقالو شعرونو ترڅنگ په کې د قطر مېشتو پښتنو ځینې لیکنې هم خپرې شوې دي. (۴: ۳۸،۳۷، ۳۹ مخونه)

د (پاک پښتو ادبي ټولنه ـ دوحه قطر) ادبي ټولنې تر څنگ ځینو ادبي او فرهنگي شخصیتونو په یوازې ځان ځینې کتابونه او مجلې چاپ او خپرې کړې دي او د دغې لارې یې په پښتونخوا کې د پښتو ادب د پرمختگ بهیر لا چټک کړی دی.

د (دستار انټرنېشنل) دوه مياشتنۍ مجلې تر بندېدو وروسته د پاک پښتو ادبي ټولنې دوحې قطر فعال غړي فېروز خان اپريدي د (پېښور انټرنېشنل) په نوم درې مياشتنۍ مجله په خپل شخصي- لګښت پيل کړه. دا مجله د ۲۰۰۹ م. کال ( اکتوبر، نومبر او ډسمبر) له مياشتو پيل شوه او تر ۲۰۱۴ م. کال پورې يې د قطر او پښتونخوا ليکوالو ليکنې خپرولې چې له همدغه کال وروسته يې نورې ګڼې نه دي خپرې شوي. په ۲۰۱۴ م. کې تر (پېښور انټرنېشنل) وروسته فېروز خان اپريدي د (ښکلي پېښور) په نوم هم د يوې بلې مجلې خپرول پيل کړل چې د دوو ګڼو تر چاپ وروسته پرې کار نه دی شوی او له چاپه راوتلې نه ده.

همدارنګه په قطر مېشتو پښتنو کې حاجي ګلزار خان اورکزی د «پاک پښتو ادبي ټولنه دوحه قطر» يو بل هڅاند غړی و چې د پښتونخوا پښتو ادب شمله يې پر سر اوچته ګرځولې ده. دی په خپله شاعر او ليکوال نه و؛ خو د پښتو ژبې د ودې لپاره يې خدمتونه د ستاينې او يادونې وړ دي. اورکزي هم په خپل شخصي- لګښت د (معمار انټرنېشنل) په نوم دوه مياشتنۍ مجله د صابر شاه صابر او يوسف خان اورکزي په مديريت خپروله. دا مجله د ۲۰۱۳ م. کال د اپرېل او مې له مياشتو راهيسې پيل او تر ۲۰۱۵ م. کال پورې چاپېده چې په همدغه کال د حاجي ګلزار خان د ناروغۍ او مړينې له امله بنده شوه. ( ۴: ۳۸ مخ)

په خليجي هېوادونو کې بحرين مېشتو پښتنو هم د پښتونخوا د پښتو ادبياتو په پرمختګ کې تر وسه وسه ډېرې هلې ځلې کړې دي. په بحرين کې مېشت پښتانه د (بحرين پښتو ادبي ټولنه) لري. دغه ادبي ټولنه د ۱۹۹۰م. اګست کې رامنځ ته شوې ده او د خپلو غړو د ادبي تذکرو او شعري ټولګو تر څنګ يې په پښتونخوا کې ګڼ ادبي او فرهنګي فعاليتونه کړي دي او له ځينو مجلو سره يې قلمي او مالي مرستې نه هېرېدونکي دي. د دغو مجلو په لړ کې (پلوشه) تر ټولو لومړۍ مياشتنۍ مجله وه چې د عبدالفتح په مديريت به له کراچۍ ښار څخه خپرېده. په دغه مجله کې د بحرين ادبي ټولنې د غړو ډېر مضامين، مقالې او شعرونه وخت پر وخت خپاره شوي دي. همدارنګه دغې ادبي ټولنې وخت پر وخت، په کراچۍ کې له (جرس)، په پېښور کې له (ليکوال) او (تماس) مجلو سره خپله قلمي او مالي مرسته او همکاري کړې ده. (۳)

د ادب او فرهنګ په وده او پرمختګ کې د خلیج مېشتو پښتنو په لړ کې د کویټ پښتنو هم پراخه برخه اخیستې ده او د ورځپاڼو او مجلو له لارې یې پښتو ادب ځلولی دی. کله چې فضل الله رښتین په کویټ کې د جبهه ملي نجات تنظیم نماینده وټاکل شو؛ نو د کویټ له نماینده ګۍ څخه یې د جهاد ورمې په نوم یوه میاشتنۍ ورځپاڼه پیل کړه. دغه ورځپاڼه په پېښور کې د عبدالرب قریش په مدیریت خپرېده چې د کوزې پښتونخوا د لیکوالو د لیکنو تر څنګ به په کې د کویټ د یو شمېر فرهنګیانو سیاسي، فرهنګي، دیني موضوعات او لیکنې هم خپرېدې. د دغې ورځپاڼې مؤسس فضل الله رښتین و چې د ۱۹۹۰م. کال د اګست تر میاشتې نشرېده او بیا بنده شوه. پر دغې ورځپاڼې سربېره په کویټ کې د افغانانو فرهنګي ـ ادبي ټولنې د خپلو نورو ادبي فعالیتونو تر څنګ د سبا ستوري په نامه میاشتنۍ مجله هم خپروله.

د سبا ستوري مجله د فضل الله رښتین په مدیریت او د زکریا ملاتړ په اهتمام له چاپه راوته. دا مجله به هره میاشت په پېښور کې چاپېده او سل ټوکه به یې کویټ ته استول کېدل. په سبا ستوري کې د پښتو ګڼ ژبني، ادبي او فرهنګي موضوعات خپاره شوي دي. (٦: ١٣٨ مخ)

د پښتونخوا په پښتو ادب کې د سعودي عربستان پښتنو ونډه هم د ارزښت او یادونې وړ ده. په سعودي عربستان کې هم زیات پښتانه شاعران او لیکوالان د ژوند شپې او ورځې تېروي چې له خوارۍ او مزدورۍ سره سره پښتو ته په خدمت کولو له چا څخه وروسته نه دي. دوی به ورځې په کار او مزدورۍ تېرولې؛ خو په رخصتۍ او خپل وزګار وخت کې به یې بانډارونه جوړول، په دغو مجلسونو کې به یې شعرونه یو بل ته اورول او ادبي تندې به یې خړوبولې. د همدغو ادبي ناستو له برکته ورو ورو ادبي ټولنې رامنځ ته شوې او د کتابونو او مجلو چاپ ته لاره هواره شوه. د سعودي عربستان په بېلابېلو ښارونو کې د پښتو ادبي او فرهنګي ټولنې جوړې شوې چې د خپلو غړو د آثارو د چاپولو تر څنګ یې په پښتونخوا کې هم د ځینو لیکوالو ناچاپ کتابونه چاپ او خپاره کړي دي چې دلته یې په لنډه ډول یادونه کوو:

**حیاتونه:** حیاتونه د حیات روغاني د نثري ټوټو ټولګه ده چې د عربستان پښتو ادبي ترون ټولنې له خوا په ۱۳۵ مخونو کې خپره شوې ده. ټول ۳۲ سرلیکونه او

مطالب په کې راغلي دي. د نثر ژبه يې طنزيه او ترخه ده. دا اثر په پېښوري ليکدود ليکل شوی دی. (۷: ۸۱ مخ)

**نېنځک:** نېنځک د حيات روغاني ليکلی ناول دی چې د ۲۰۱۲ م. کال په اگست مياشت کې د عربستان پښتو ادبي ټرون ټولنې له خوا په ۱۷۵ مخونو کې چاپ او خپور شوی دی. د دې ناول موضوع د دريم جنس پر يوه کرکټر راڅرخي، دغې طبقې سره چې څومره ظلمونه کېږي، په ټولنه کې له څومره ستونزو او کړاوونو سره مخامخ دي، دا ټول په کې په خواږه او روان نثر انځور شوي دي. (۷: ۸۳ مخ)

## پايله

په خليجي هېوادونو کې د پښتنو څرک د شلمې ميلادي پېړۍ په پنځمه لسيزه کې يقيني دی؛ خو پښتانه په کې خپل ادبي فعاليتونه له اتمې لسيزې (۱۹۸۰ ز کال) څخه راهيسې پيلوي. دوی د خليج په بېلابېلو سيمو او هېوادونو کې د ادبي غونډو، مشاعرو، ادبي ناستو او مجلسونو له لارې پښتو ادب ځلوي او د پښتو پالنې لپاره شعوري هڅې کوي. د همدغو هڅو په نتيجه کې د خپلو ادبي ملگرو شعري ټولگې، راپورتاژونه، ادبي تذکرې، ناولونه، يونليکونه او د لنډو کيسو ټولگې چاپوي او د پښتو ادب په پراختيا او پرمختيا کې بېسارې ونډه اخلي، خو پر دغو ادبي کړنو بسنه نه کوي او په پښتونخوا کې د خپلو قلمي او مالي همکاريو په مټ د پښتو ادب په وده او پرمختيا کې هم پراخه ونډه اخلي. د دوی په مالي او قلمي مرستو ډېر پښتو ناچاپ او کميابه آثار د چاپ په گاڼه سينگار مومي. د ډېرو ليکوالو او څېړنکو د فکر د خپرولو لپاره مجلې خپروي او له همدې لارو په پښتونخوا کې پښتو ادب ته پراختيا ورکوي.

خليج مېشتو پښتنو د خپلو قلمي او مالي همکاريو په مټ په پښتونخوا کې د پښتو ادب لسگونه آثار چاپ او خپاره کړي او د پښتو ادب د ودې او پرمختيا په برخه کې يې د مرستو کلک هوډ لرلی او لري يې.

## مأخذونه

۱. آريانا دايرة المعارف، دويمه دوره، لومړی ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د دايرة المعارف د مرکز رياست: کابل، نبراسکا مطبعه، ۱۳۸۶ ل کال.

۲. اپريدی، فېروز خان«خليج کې پښتانه او پښتو» دستار انټرنېشنل(مجله) (اپريل،مې) پاک پښتو ادبي ټولنه دوحه قطر: پېښور، ۲۰۰۵م. کال.

۳. پرهر قریشي، حامد. بحرین پښتو ادبي ټولنې غړی، ۶۰ کلن، لسم ټولګی (د بحرین پښتو ادبي ټولنې فعالیتونه ارزول)، حمایت الله ښاد، پېښور،۱۳۹۸/۱/۲۰.
۴. ثناء، ثناء الله. د یار کلي ته د قطر په لار( سفرنامه)، شاهین ویلفیئر ټرسټ پبلک لایبرېري: پېښور، اعراف پرنټرز، ۲۰۱۷ م. کال.
۵. خټک، اعجاز. د اماراتو پښتو ادبي ټولنه، متحده عرب اماراتو غړی، ۶۵ کلن، لېسانس(پښتو ادبیات)، (په خلیجي هېوادونو کې د پښتو ادبي ټولنې ارزول)، حمایت الله ښاد، پېښور، ۱۳۹۷/۹/۱۶.
۶. ښاد، حمایت الله. په خلیجي هېوادونو کې د مېشتو پښتنو د فرهنګي ـ ادبي هڅو څېړنه (ناچاپه علمي ـ څېړنیزه پروژه)، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳۹۸ ل کال.
۷. کمال، نازو. په سعودي عربستان کې د مېشتو پښتنو د پښتو ادبي هڅو څېړنه (ناچاپه علمي ـ څېړنیزه پروژه)، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳۹۸ ل کال.